






فرید احمد « تسکین » ـ پکتیا

د نشر نیټه : ۲۹ مارچ ۲۰۱۳ میلادی

# د زمزمې زمزمې چاپ شوې!




خوښ یو چې د پښتو ادب په ډګر کې د شعر د لارې همغږې او ملګرې دمحبت مجلې همیشنۍ همکارې او دمیرمن بهیر په غیږ کې روزل شوې،د میوند د اتلې ملالۍ پر پله روانې او د نازو انا د پښتونولۍ فکر د ډیوې وړونکې زمزمې نیازۍ نوې شعري ټولګه( نه به هغه په دې لار راشي،نه هغه وختونه) له چاپه راو وته محبت خیل دې قدرمنې اغلې او د دې د هنر مینه والو ته د زړه له تله

مبارکي وايي او له لايزال خدای ج څخه د ژوند په ټولوچارو کې د بریالیتوب او د هر ډول ستونزو څخه ورته د خلاصون دعا ګاني کوي.

د دې ټولګې په زیاتوني سره به پښتو ادب نورهم غني او شتمن شي، په دې سره به نورې میرمنې هم له یوې خوا خپل احساسات د هنر په جامه کې را ونغاړي او له بلې خوا به د هغو مستعارو نومونو لپاره د پلک ګذار وي چې په ټولنیزو،برېښنايي او چاپي خپرونو کې شعرونه خپروي.

د پښتو ادب د لا غوړيدا په هيله

د محبت مجلې اداره ـ پکتيا

بازگشت به صفحه اصلی - www.said-afghani.org